له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه وېره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي ((پراخي به درباندې راشي

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې: یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منبر ناست و او مور یې شاوخوا ناست وو، نو ویې فرمایل: «له هغه څه نه چې زه له ما څخه وروسته ستاسو په اړه وېره لرم دا دی چې پر تاسو به دنیا او زینت یې پرانستل شي (پراخي به درباندې راشي). بیا یو سړي وویل: اې د الله رسوله! آیا کېدی شي چې خیر شر وزېږوي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم غلی شو، نو (دې سړي ته وویل شو چې: څه خبره ده چې؟ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خبرې کوې او هغه له تا سره خبرې نه کوي؟ نو مور ولېدل چې پر هغه وحی نازلېده؟ وایې: بیا یې له خپل (تندي) څخه خولې وچې کړې او ویې ویل: پوښتونکی چېرته دی؟ داسې و لکه چې ویې ستایي، ویې ویل :«په حقیقت کې، خېر شر نه زېږوي، او هغه څه چې په پسرلي کې وده کوي، یا خو وژل کوي او یا مرګ ته نږدې کول، پرته له شنه خوړونکي حیوان، کوم چې تر هغه پورې خوړل کوي تر څو یې چې تشي وپرسېږي، بیا نو د لمر سترګې ته مخ شي سوېږي او متیازې وکړي او بیا وخړېږي، او یقینا چې دا مال شین او خوږ دی، نو غوره مسلمان هغه دی چې یو څه ترې مسکین، یتیم او مسافر ته ورکړي؛ لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي، او یقینا چې څوک یې په ناحقه واخلي، نو د هغه چا په څېر به وي چې خوري او نه مړېږي، او د قیامت په ورځ به پرې ګواه وي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر ناست و او خپلو اصحابو ته یې وفرمایل: هغه څه چې زه له ما وروسته پر تاسو ډېر وېرېږم هغه دا ده چې پر تاسو به د ځمکې له نعمتونو، د دنیا د ښکلاګانو، د هغې د زینت او خوښۍ او د مالونو، جامو، فصلونو او نورو شیانو پراخي راشي چې خلک به یې په ښکلا ویاړي، سره له دې چې ژر له منځه تلونکي دي. یو سړي وویل: دنیا خو د الله تعالی نعمت دی، نو آیا دا نعمت به ښېرته راګرځي او زحمت او سزا به ترې جوړېږي؟!. خلکو پوښتونکی ملامت کړ، ځکه هغوی پېغمبر صلی الله علیه وسلم ولیده چې چپ شو، او هغوي ګمان وکړ چې په غصه یې کړ. خو (وروسته) څرګنده شوه چې پر هغه صلی الله علیه وسلم وحي نازله شوه، بیا یې له خپل تندي خوله پاکه کړه او ویې فرمایل: سوال کوونکی چېرته دی؟ هغه وویل: زه. یعنې دا یم. نو د الله تعالی حمد او ثنا یې وویله، بیا هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ریښتونی خبر یوازې خبر راپېښوي، خو (د دنیا) دا ښکلا یوازې خبر نه دی، ځکه چې فتنه رامنځته کوي، او په اړه یې سیالي او بوختیا د دې لامل ګرځي چې انسان اخرت ته پوره پاملرنه ونه کړي، بیا یې د دې لپاره مثال بیان کړ او ویې فرمایل: د پسرلي بوټي او شین والی؛ یو ډول فصل دی چې مالونو ته خوند ورکوي او نږدې ده چې د ډېر خوراک له امله ووژل شي او یا وژلو ته ورنږدې شي، خو هغه حیوانات چې د تشو تر ډکولو پورې وخړېږي، بیا لمر ته مخ کړي پچې او یا متیازې وکړي، بیا له خپلې ګېډې خولې ته واښه راپورته کړي ویې ژوي او تېر یې کړي او بیا خوراک ته وروګرځي. نو دا مال د شنو خوږو بوټو په څېر دی چې د ډېروالي له امله (حیوان) وژني او یا یې وژلو ته ورنږدې کوي؛ مګر دا چې د حلالې لارې د اړتیا وړ په خوراک بسنه کوي تر دې چې خودکفا شي نو ضرر نه لري، او غوره مالدار مسلمان هغه دی چې مسکینانو، یتیمانو او مسافرو ته یې ترې ورکړي او څوک چې دا مال په حقه ترلاسه کوي هغه ته برکتي کیږي، او څوک یې چې ناحقه واخلي، نو مثال یې د هغه چا په څېر دی چې خوراک کوي او نه مړېږي، او د قیامت په ورځ به پرې شاهد وي.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee